**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت**

**د تسوېدکمېسیون**

د افغانستان د گرځندوی او هوټل دارۍ د ملی انستیتوت د اساسنامې مسوده

## لومړی څپرکی

## عمومي احکام

**د وضعې اړتیا**

لومړۍ ماده :

دا اساسنامه د افغانستان د ګرځندوی او هوټلدارۍ ملي انستیتوت د چارو د لا ښوالي په موخه وضعه شوې ده.

**موخې**

دویمه ماده :

د دې اساسنامې موخې دا دي :

۱ ـ د انستیوت د تشکیل او فعالیتونو د اړوندو چارو سمون.

۲ ـ دګرځندوی او هوټلدارۍ په برخه کي د مسلکي زده کړو د میکانیزم برابرول.

۳ ـ په هیواد کي د ګرځندویه صنعت د اقتصادي پراختیا او ودې لپاره د ګرځندوی صنعت کارګرانو ته د کاري مهارتونو برابرول.

۴ ـ د ګرځندوی او هوټلدارۍ خدمتونو د وړاندي کولو په برخه کي د فني کدرونو روزنه.

**د نوم لنډیز**

په دې اساسنامې کې د افغانستان د ګرځندوی او هوټلدارۍ ملي انستیتوت وروسته له دې د (انستیتوت) په نوم یادېږي.

**ځای**

څلورمه ماده :

د انستیتوت اصلي ځای د کابل په ښار کې دی.

**د تقنيني اسنادو رعايتول**

پینځمه ماده :

انستيتوت د خپلو دندو او فعاليتونو په لړ کې د افغانستان د اساسي قانون حکمونه، تقنيني اسناد، دا اساسنامه او د افغانستان د دولت نړيوالې ژمنې په اړوندو برخو کي رعايتوي.

**د پلي کولو ساحه**

شپږمه ماده :

د دې اساسنامې حکمونه د انستيتوت په اړوندو چارو کې د پلي کولو وړ دي.

**ګړنې (اصطلاحات)**

اوومه ماده :

په دې اساسنامه کې لاندې اصطلاحات داسې تعريف شوي دي:

غوښتونکی (متقاضي) : هغه چا ته ويل کيږي چې په انستيتوت کي د ګرځندوی او هوټلدارۍ په يوې رشتې کې نوم ثبتونې او يا د انستيتوت لنډمهالو زده کړه ييزو دورو کې زدکړو ته ليوالتيا ولري.

**د پلي کولو مرجع**

اتمه ماده :

د اطلاعات او فرهنګ وزارت او انستيتوت د دې اساسنامې د احکامو د پلي کولو اساسي مرجعې دي.

## دویم څپرکی

## تشکیل، دندې او صلاحیتونه

### تشکیل

نهمه ماده :

انستیتوت علمي شورا، اجراییه کمیته، آمریت او اړونده څانګې لري.

### د علمي شورا جوړښت

لسمه ماده :

علمي شورا د انستیتوت د تصمیم نیونې تر ټولو لوړه مرجعه ده چې تشکیلاتی جوړښت یې په لاندي ډول دی :

۱ ـ د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ګرځندوی معین د شورا د رییس په توګه.

۲ ـ د ګرځندوی په اړوندو رشتو کې د کابل پوهنتون ریاست لخوا معرفي شوي دو تنه متخصص ښوونکې د شورا د غړیو په توګه

۳ ـ د اطلاعات او فرهنګ وزیر په ګمارنه د ګرځندوی په برخه کې یو تن متخصص د شورا د غړي په توګه.

۴ ـ د ګرځندوی د څېړنې، ودې او بازارموندې رییس د شورا د غړي په توګه.

۵ - د انستیتوت آمر د شورا د منشي په توګه.

### د علمي شورا کاري موده

یوولسمه ماده :

د انستیتوت د علمي شورا د غړیو کاري موده د اطلاعات او فرهنګ د وزیر د منظورۍ نه وروسته دوه کاله ده او د بلي دورې لپاره بیا منظورۍ ته اړتیا لري.

### د علمي شورا غونډې

دوولسمه ماده :

(۱) د علمي شورا غونډې په هرو دوو میاشتو کي یو ځل نیول کیږي، د غونډې نصاب د څلورو غړیو په موجودیت بشپړیږي.

(۲) د علمي شورا تصمیمونه د حاضرو غړیو د رایو په اکثریت نیول کیږي.

**<u>د علمي شورا دندې او صلاحیتونه</u>**

دیارلسمه ماده :

علمي شورا لاندې دندې او صلاحیتونه لري :

۱ ـ د علمي شورا د کورنیو کړنلارو تصویب او د اطلاعات او فرهنګ وزارت مقام ته یې د منظورۍ لپاره وړاندې کول.

۲ ـ له اړوندو ادارو سره په همغږۍ د انستیتوت د تشکیلاتي جوړښت تنظیم او جوړول او با صلاحیتو مرجعو ته یې د پړاونو تیرولو او منظورۍ لپاره وړاندي کول.

۳ ـ د انستیتوت د کړنلارو او کاري برنامو جوړول او د منظورۍ لپاره یې  با صلاحیتو مرجعو ته وړاندي کول.

۴ ـ د انستیتوت د اړتیا وړ بودیجې وړاندیز.

۵ ـ د انستیتوت د سمسترونو او کلني اجرااتو د راپور ارزونه.

٦ ـ  د هر کال لپاره د انضباطي کمیتې ګمارل.

۷ ـ د قانوني پړاونو تېرولو لپاره اړوندو ادارو ته د حق الزحمه یي یا بالمقطع ښوونکو د ګمارنې تاییدول.

۸ ـ د قانونی پړاونو تیرولو لپاره د اطلاعات او فرهنګ وزارت مقام ته د دې اساسنامې د حکمونو د تعدیل، حذف، ایزاد او الغا وړاندیز.

**<u>د اجراییه کمیتې غړي</u>**

څوارلسمه ماده :

اجراییه کمیته د علمي شورا د پرېکړو د پلي کولو مرجعه ده، چې تشکیلاتي جوړښت یې په لاندي ډول دی :

۱ ـ د ګرځندوی د څېړنې، ودې او بازارموندنې رییس د کمیتې د رییس په توګه.

۲ ـ د انستیتوت د گرځندوی څانگې مسوول د کمیټې د غړي په توگه.

۳ ـ د انستیتوت د هوتلدارۍ څانگې مسوول د کمیټې د غړي په توگه.

۴ ـ د رییس په وړاندیز  او د وزارت د مقام په تاییدۍ د انستیتوت یوه تن ښوونکی د کمیټې د غړي په توگه.

۵ ـ د انستیتوت آمر د غړي او د کمیټې د منشي په توگه.

## د کمیټې غونډې

پینځلسمه ماده

(۱) د انستیتوت د اجراییه کمیټې غونډې په هرو ۱۵ ورځو کې نیول کیږي او فوق العاده غونډې بې د کمیټې د دریو غړیو په وړاندیز او یا د کمیټې د رییس د پریکړې پر بنسټ نیول کیږي، د غونډو نصاب د څلورو تنو غړیو په موجودیت بشپړیږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي کمیټې پریکړې د حاضرو غړیو د رایو په اکثریت نیول کیږي.

## د ښوونکو د کاري دورې موده

شپاړسمه ماده :

## د انستیتوت رشتې

اوه لسمه ماده :

انستیتوت د گرځندوی او هوتلدارۍ رشتې لري.

**د انستیتوت دندې**

اتلسمه ماده :

انستیتوت لاندې دندې لري :

۱ ـ د ګرځندوی او هوټلدارۍ په برخو کې د فوق بکلوریا رسمي دورو لپاره د زده کړیالانو منل (پذیرش).

۲ ـ په اړوندو دورو کې د څېړنو لپاره د مناسبو زمینو برابرول.

۳ ـ د ګرځندوی او هوټلدارۍ په برخو کې د لنډ مهاله علمي مسلکي دورو ترسره کول.

۴ ـ په هیواد کې د ګرځندویه صنعت د ودې په موخه د سیاحت په برخه کې د کنفرانسونو، سیمینارونو او غونډو جوړول او همغږي کول.

۵ ـ له کورنیو او بهرنیو عالي مماثلو موسسو سره د اړیکو پراخول او د ګډې همکارۍ رامنځته کول.

٦ ـ په کتابونو، دیجیتلي زدکړه ییزو وسایلو او نورو لازمو توکو د انستیتوت دکتابتون تنظیم، وده او پراختیا.

۷ ـ د موسسې د موخو لاسته راوړلو لپاره د اړتیا وړ امکاناتو برابرول.

۸ ـ په دې اساسنامې او اړونده کړنلارو کې نورې درج شوي دندې.

**مالي سرچینې**

نولسمه ماده :

د انستیتوت مالي مصارف له لاندې سرچینو څخه تمویلیږي :

۱ ـ د اطلاعات او فرهنګ له عادي او پراختیایي بودیجې څخه.

۲ ـ د تقنیني اسناد په رعایت، د اړوندو ملي او نړیوالو تمویل کوونکو له مرستو څخه.

۳ ـ له اړونده کړنلارې سره سم غوښتونکو (متقاضیانو) ته د زده کړییزو خدمتونو له فیس څخه.

## د انستیتوت قانوني استازی

شلمه ماده :

د انستیتوت آمریت چې د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ګرځندوی د څیړنې، ودې او بازار موندنې ریاست په چوکات کې فعالیت کوي، په حقیقي او حقوقي مراجعو کې د انستیتوت قانوني استازی دی.

## د انستیتوت د آمریت دندې او صلاحیتونه

یو ویشتمه ماده :

د انستیتوت آمر لاندې دندې او صلاحیتونه لري :

۱ ـ له اړوندو څانګو سره په همغږۍ او د ریاست عمومي پلان سره سم د کلني پلان جوړول.

۲ ـ د دې اساسنامې د حکمونو او د دندې لایحې سره سم د زده کړییزو چارو تنظیم، راغونډول او د اړوندو چارو پلي کول.

۳ ـ د انستیتوت د علمي شورا د مصوبو پلي کول.

۴ ـ د وخت له اړتیا سره سم د انستیتوت تعلیمي نصاب ته وده ورکول.

۵ ـ د درې میاشتني او کلني راپور جوړول او د انستیتوت علمي شورا ته یې وړاندي کول.

٦ ـ د انستیتوت علمي شورا ته د تایید او پړاونو تیرولو لپاره د انستیتوت د تشکیلاتي جوړښت وړاندیز.

۷ ـ د کاري پلان د مسودو، کړنلارو او اړونده لارښود پاڼو ترتیب او جوړول او د انستیتوت علمي شورا ته یې د تاییدۍ لپاره وړاندي کول.

۸ ـ د اړوندو څانګو لپاره د بالمقطع ښوونکو د ګمارلو د طرحي جوړول او د انستیتوت علمي شورا ته یې وړاندي کول.

۹ ـ له مماثلو بنسټونو سره د اړیکو ټینګول.

۱۰ ـ د ښې ګټې اخیستنې په موخه له زده کړییزو توکو او تدریسي لړۍ څخه کتنه( نظارت).

## ځانګې

دوه ويشتمه ماده :

(۱) د انستيتوت زده کړه ييزي ځانګې د ګرځندوی او هوتلداری ځانګې دي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي ځانګې هر يو جلا مسووليتونه لري.

## د ځانګې د مسوول شرايط

درويشتمه ماده :

د ځانګې مسوول لاندې شرايط لري :

۱ ـ د ملکي خدمتونو په قانون کې درج شوې شرايط.

۲ ـ په اړوندو رشتو کې د ليسانس يا لږ تر لږه د فوق بکلوريا سند لرل.

۳ ـ د مديريت په برخه کې لږ تر لږه يوه کلنه کاري تجربه لرل.

## د ځانګې د مسوول دندې

څلورويشتمه ماده :

د ځانګې مسوول لاندې دندې او صلاحيتونه لري :

۱ ـ د انستيتوت له موخو سره سم د ځانګې د کاري پلانونو ترتيبول او د انستيتوت آمريت ته يې وړاندي کول.

۲ ـ د انستيتوت آمر ته د درې مياشتني کاري راپور ورکول.

۳ ـ

۴ ـ

۵ ـ

٦ ـ

## درېیم څپرکی

## زده کړه ییزي چارې

**زده کړه ییزه دوره**

پینځه ویشتمه ماده :

د انستیتوت کلنۍ زده کړه ییزه دوره دوه سمستره ده او هر سمستر یی څلور میاشتي او پینځه لس ورځي دي.

**د زده کړه ییزي دورې سمسترونه**

شپږ ویشتمه ماده :

۱ ـ د استیتوت زده کړه ییزي دورې څلور سمستره دي که زده کړیال ونشو کړای خپل ټول کریدتونه په څلورو سمسترو کې بشپړ کړي په دې صورت کې د انستیتوت آخرنۍ زده کړییزه دوره مجموعا شپږ سمستره ده.

۲ ـ لنډمهاله زده کري له اړوندو کړنلارو سره سم تنظمیږي.

**د منلو( پذیرش) شرایط**

اووه ویشتمه ماده :

د داوطلباتو د منلو شرایط :

۱ ـ د افغانستان د تابعیت پیژند پاڼې لرل.

۲ ـ د دوولسم ټولگي څخه د فراغت سند لرل.

۳ ـ د کانکور په آزموینه کې گډون او په هغه کې قبولېدل.

۴ ـ د عامې روغتیا وزارت له یوه روغتون څخه صحي تصدیق لرل.

**د کریدیت سیستم**

اته ویشتمه ماده :

د انستیتوت زده کړه ییز سیستم کریدت دی چې له اړونده لارښود پاڼو سره سم تنظیمیږي.

**زده کره ییز کریدتونه**

نهه ویشتمه ماده :

(۱) د سمسټر د درسي کریدیتونو د بشپړولو او یا د لنډمهاله زده کړییزو دورو د درسونو د خلاصولو تصدیق د زده کړیال په غوښتنه د انستیتوت لخوا صادریږي.

(۲) د زده کړیالانو شمولیت، تصدیق، تبدیلي، انفکاک، محرومیت، تدریس او ارزونه له جلا کړنلارې سره سم تنظیمیږي.

## ځلورم څپرکی

## انضباطي لارې چارې(تدابیر)

**د زده کړیالانو مکلفیت**

دیرشمه ماده :

(۱) زده کړیالان او کارکوونکي په دې اساسنامې کې د نظم او دسپلین د درج شوي لایحې په رعایتولو مکلف دي.

(۲) که زده کړیالان او کارکونکي په دې اساسنامې کې درج شوی تدابیر رعایت نه کړي نو؛ له سرغړوونکو سره به د اساسنامې د حکمونو او د هیواد د نورو نافذو قوانینو سره سم قانوني چلند وشي.

**د سرغړونو کمیته**

یو دیرشمه ماده :

د سرغړونو د بیا کتنې(بررسی) په موخه د هر کال په پیل کې د علمي شورا لخوا انضباطي کمیته په لاندې تشکیلاتي جوړښت گمارل کیږي:

۱ ـ د انستیتوت آمر د کمیتې د رییس په توگه.

۲ ـ د گرځندوی څانگې عمومي مدیر د کمیتې د غړي په توگه.

۳ ـ د هوتلدارۍ څانگې عمومي مدیر د کمیتې د غړي په توگه.

۴ ـ د علمي شورا په ټاکنه د انستیتوت یو تن ښوونکی د غړي په توگه.

۵ ـ د زده کړیالانو یو استازی د غړي په توگه( یوازې د زده کړیالانو د سرغړونو په اړوندو غونډو کې گډون کوي ).

**انضباطي لارې چارې**

دوه دیرشمه ماده :

هغه انضباطي لارې چارې چې د انستیتوت لخوا په سرغړوونکو پلي کیږي په لاندې ډول دي :

۱ ـ توصیه

۲ ـ په دوسیه کې یې درج کتبي اخطار

۳ ـ له تقنیني اسنادو سره سم د یوه سمستر لپاره د زده کړیال د زده کړو ځنډول.

۴ ـ له تقنیني اسنادو سره سم له انستیتوت څخه د زده کړیال ایستل.

(۲) د کارکوونکو سرغړونې د اړوندو تقنیني اسنادو په واسطه څیړل کیږي.

## پینځم څپرکی

## د انستیتوت ښوونکي

**د ښوونکو شرایط**

دریې دیرشمه ماده :

د انستیتوت مسلکي ښوونکي لاندې شرایط لري:

۱ ـ لږ تر لږه د لیسانس سند لرل، ماستر او دوکتور ته لمړیتوب ورکول کیږي.

۲ ـ په اړوندو مضمونو کې د لیسانس لپاره لږ تر لږه دوه کاله او د ماستر لپاره د تدریس په برخه کې یوه کلنۍ تجربه لرل اړین دي.

**د ژبې کړې ژبه**

څلور دیرشمه ماده :

(۱) انستیوت مکلفیت لري چې د دې مادې ( ) فقرې د حکم د رعایت په موخه د زده کړیالانو د ښې پوهاوی لپاره په تدریس کې ژبنی انډول( توازن )رعایت کړي.

(۲) په انستیتوت کې تدریس د هیواد په دواړو رسمي ژبو ترسره کیږي.

**له ښوونکو سره د قرارداد تړون**

پینځه دیرشمه ماده :

(۱) له ښوونکو سره د قرارداد او حق التدریس تړون د علمي شورا له تاییدۍ او د اطلاعات او فرهنګ وزیر له منظورۍ وروسته ترسره کیږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د ارزونې راپور د علمي شورا لخوا بررسي او د اطلاعات او فرهنګ وزیر لخوا تاییدیږي.

**د ښوونکو ارزونه**

شپږ دېرشمه ماده :

د ښوونکو ارزونه د انستیتوت له اړونده کړنلارې سره سم ترسره کېږي.

## شپږم څپرکی

## نهایي حکمونه

**مهر او نښان**

اووه دیرشمه ماده :

انستیتوت ځانګړی مهر، نښان او نشریه لري:

**د لایحو او کړنلارو وضع :**

اته درشمه ماده :

د اطلاعات او فرهنګ وزارت کولای شي د دې اساسنامې د حکمونو د لا ښه پلي کیدو په موخه لایحې، کړنلاري او لارښود پاڼې وضع کړي.

**انفاذ**

نه دیرشمه ماده :

دا اساسنامه له تصویب نه وروسته نافذیږي.

**د تسوید کمیسیون**

محمد رامین عتیق زاده
د گرځندوی د څېړنې،ودې او بازارموندنې رییس
د تسوید د کمیسیون غړی

ذبیح الله احسان
د هوتلونو د تصدۍ رییس
د تسوید د کمیسیون غړی

احمد شاه مخلص
د گرځندوی د تقنین او پالیسۍ د برخې کارپوه
د تسوید د کمیسیون منشي او غړی

نور محمد حسن خیل
د افغان تور د تصدۍ رییس
د تسوید د کمیسیون غړی

دلاور نذیر زوی

د اطلاعات او فرهنگ وزارت ستر حقوقي سلاکار

د تسوید د کمیسیون رییس

وکتل شو

تایید

د اساسنامې طرحه دې طی مراحل شي

حسینه صافی

د اطلاعات او فرهنگ سرپرسته